# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز كوند خپرونه

## دولسم نوامبر ١٩٩٣كال د پښتنو د يووالي

## ورځې په وياړ ځانګړې ګڼه

**Special Edition/Spezial Ausgabe**

**12 November 1993**

**(Tag der Einheit der Paschunen)**

# PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN - Paschtunchwa/Afghanistan**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) -Pashtoonkhwa/Afhanistan**

**www.pashtoonkhwa.com**

**pashtoonkhwa@gmail.com**

**psdp@gmx.net**

**V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:**

DR. KABIR STORI

RICHARDSTR. 5

50389 WESSELING - GERMANY

## Editorial Board/Redaktion


ALI KHAN MASEED

HIDAYAT BANGASH

MUBARIZ SAPI

GULGHUTAI KUNARAI

AZIZ SARSHAR



# پښتونخوا

د پښتنو دیووالی د ورځې په ویاړ

د پښتنو تولنیز اولسولیز گوند

خاصه خپرونه

۱۲ نومبر ۱۹۹۳

12 Nov 1993
SPEZIAL_AUSGABE

# PASCHTOONCHWA
# PASHTOONKHWA

TAG DER EINHEIT DER PASCHTOONEN

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN
ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

**PSDP**

## سرلیک لیکوال مخ


| سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| سریزه | „ستوری" | ۱ |
| مقدس بغاوت | مبارز „ساپی" | ۴ |
| د احمد شاه بابا په مړینه تر اول افغانی جنگ پوری | نسیم „ستوری" | ۷ |
| پښتونخوا | محب الله „روفی" | ۱۱ |
| فارورډ پالیسی او د دوهم افغانی جنگ | علی خان „مشهود" | ۱۴ |
| په افغانستان باندی د انگریزانو یوځی تیری | ډاکتر حضرت رسول | ۲۵ |
| د تاریخ یا پاڼه | محمد خان „نار" | ۳۵ |
| گونډا او برلیښتانه | محب الله „روفی" | ۳۶ |
| د ډیورنډ کرښه او امیر عبدالرحمن خان | محمد شیرین „کریوال" | ۳۷ |



خپرونکی: د پښتنو تولنیز اولسولیز گوند
پښتونخوا /افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN
PASCHTOONCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



زمه وار: د ډوکتور کبیر ستوری
V. I. S. P.: DR. KABIR STORI
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS: Richard Str. 5
50389 Wesseling
Germany
Tel. (02236) 83463



د خبرونی جرگه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD — علیخان محسود
HIDAYAT BANGASH — هدایت بنگش
MUBARIZ SAPI — مبارز ساپی
GUL GHUTAI KUNARAI — گل غوټۍ کونړۍ
AZIZ SARSHAR — عزیز سرشار

## سریزه

پښتانه د نړۍ په پرګنو او قامونو کې شمېرل کېږي د اخېره موږ ته د جرګې نښتم رایه ګونګوي چې د پښتونولي بنسټ جوړوي. د جرګې سیستم د هغې ټولنې محصول دی (1) چې د نړۍ په سرخطه ناځه (15) زره کاله د مخه منځ ته راغلی دی (2).

پښتنو د خپل دې اوږد تاریخ په اوږدو کې ډېرې خوږې او ترخې لیدلې دي. د پښتونخوا د ننګ د ننګیالیو د دغه پښتنو شاهدان دي چې پر یرغل ګرد پښتنو په خاوره تېر شوي او د دې خاورې ټولنیزې، پوهنیزې، کلتوري او مدني شتمنۍ او ارزښتونه ئې لوټ کړي دي.

د پښتونخوا سر ډېر موږ ته د دغه یرغل ګرو او هغه پښتنو ننګیالیو چې د یرغلګرو مخه ته کلک د سپر په شان ودرېدلي دي کیسې کوي شي خو د دې مجلې ټوله په پښتنې خاوره د فرنګیانو په یرغل تنګه ده.

په نولسمه پېړۍ کې چې انګرېزانو خپل حاکمیت په هند کې ټینګ کړو، نو د روسانو مقابل کې د خپل حاکمیت د ټینګولو لپاره ئې په افغانستان باندې یرغل پیل کړې او د روستنه د پښتنو ماتې ځه ئې خپل سیاست د (ووېشه او حاکمیت وکړه) په ازمایښت شوی اصول ودرود. په دې بله ځګړه کې چې د ګندمک (26.5.1879) په تړون پای ته ورسېده. انګرېزانو وکولای شول چې ختیځ او جنوب ختیځ افغانستان سیمې چې د ستراتیژۍ له پلوه ډېرې مهمې وې ونیسي او د افغانستان دفاعي او بهرني سیاست د خپلې اغېزې لاندې راولي او بیا وروسته د ډیورنډ تړون (12.11.1893) او د ډیورنډ د کرښې په واسطه پښتانه په برخو ووېشل دغه کرښه د لمړي سرځه تراوسه پورې هېڅ پښتون نه منلې په ننګرهار، پکتیا، قندهار، کونړ، باجوړ، مومند، خیبر، وزیرستان او نورو پښتونخوا په کوټو کوټو کې یا قوتونه د دې خبرې ثبوت دی.

اوس چې د دغه کرښې سل کاله پوره کېږي د پښتنو ټولنیز او لسولیز ګوند چې د فرنګیانو په مقابل کې د باچا خان (فخر افغان) د مشرۍ لاندې د ملي ازادۍ د غورځنګ برخه ده او د پښتنو د یووالي او خپلواکۍ تاریخي رسالت ور په غاړه دی د اپریل وګړه چې د (1993) کال د نومبر د میاشتې د ولسمه نېټه چې د ډیورنډ تش په نامه کرښې سل کاله پوره کېږي د ډیورنډ د لوځنامې د باطلېدو



او ټولو پښتنو د یووالي د وړځې په نوم ولمانځي او ټولې جرګې ته ئې دا دنده ور په غاړه کړه چې د ډیورنډ د کرښې او لوځنامې په باره کې معلومات راټول او د پښتونخوا په ټوله خاصه ګړنه کې د پښتنو د یووالي د ورځې په ویاړ خپره کړي. د دغه تړون په تاریخي سیاسي او حقوقي اړخونو باندې د دې مجلې په مضمونونو کې پوره رڼا اچول شوې ده چې زه پرې نور څه لیکل نه غواړم. یوازې د حقوقي اړخ څو ټکي رایادونه کوم:

۱- په ټوله نړۍ کې پېښې د اثبوت رسوي چې د اسې تړونونه چې د ښکېلاک مناسبا تو د لاندې منځ ته راغلي دي نن ورځ اعتبار نلري

۲- د ولسونو د حقوقو یوه پرخه نظریه دا ده چې «یو تړون چې اغېزه ئې ختم او د تړون هدف تر لاسه شي د اعتبار نه لوېږي» (3).

د هند د ښکېلاکي (مستعمري) څخه د فرنګیانو په وتلو سره د ډیورنډ تړون په اتوماتیکي توګه لغوه او د اعتباره لوېدلی دی ځکه چې د تړون د برخه وال یو اړخ په هند کې خپل موجودیت د لاسه ورکړی او بل دی توګه ئې هدف هم د منځه تللی دی چې د روسیې په مقابل کې په هند کې خپل حاکمیت ټینګ کړي

۳- پښتنو د غه کرښه په عمل کې مراعات کړې نه ده. او بیا د پا سپورته پرته له سره ازاد تګ راتګ کوي او خپل ژبني، نسلي، تاریخي، جغرافیائي، کلتوري، ټولنیز او اقتصادي وحدت ئې ساتلی دی چې دا د ډیورنډ د کرښې د بې اعتبارۍ بل ثبوت دی.

د پښتنو ټولنیز او لسولیز ګوند چې د پښتون ولس د ازادۍ ممثل دی د دغه تړون د قبر په سر د اوږې ځل لپاره خاورې اړوي او د تل لپاره ئې لغوه اعلانوي په پای کې د پښتونخوا د دې مجلې د جرګې غړو محمد شیرین ګردیوال «مبارز ساپي»، داکتر صاحب، دوکتور د ګروال حضرت رسول او علي خان مشهود، څخه خوښنه کوي چې په دومره لنډ وخت کې ئې د دې مجلې مضمونونه تیار کړل. همدغسې د حاجي فضل الرحمن «شېر» او د عطا محمد «شیرزي» څخه چې د دې مجلې د چاپ په چټکتیا کې ئې مرسته کړې ده څېره ښه کوي. سربېره پر دې د عزیز «سو شال»، غلام نبي «سخي»، ناصر خان پایر، هدایت «بنګښ» او انجینر حبیب رسول چې د مجلې د بڼې په ښکلا کې ئې زیار او ایستلی او ترې ډېر



د محب الله «روفي» څخه چې د مجلې په لیکلو کې ئې شپه شوګیر کړي او قام ته ئې پرې خدمت کې بې خوبي په ځان منلي د زړه د کومې خوښنه ورانوي کوو.

په برې.

دوکتور کبیر «ستوري»

د پښتنو د ټولنیز او لسولیز ګوند مشر

## اخستونځی:


1) Engels, Friedrich: "Der Ursprung der familie, des privateigen-tums und des staat" Berlin 1974, S. 194 f.

2) Stein, Werner: "Kulturfahrplan" Berlin 1954, S. 14

3) Völkerrecht (Lehrbuch) Bd. 1 Berlin 1973, S. 252


د باچا خان پېلاړ روان ملي تړون کې ز موږ

پښتنو عزت، پښتنو ایمان پښتنو قانون دی زموږ

لوی څښتن دې ماتوه لویه پښتونخوا جوړه کړه

ملي پښتون، احساس پښتون، عقل پښتون دی زموږ

د پښتون ملي زړونو کې حرکت ترې نشي

ازاد پیدا دی غلامي کې لوېدلی نشي

«ستوري»



لیکوونکی مبارز «ساپي»

# مقدس بغاوت

په بشري ټولنه کې د ځمکې پرمخ اوسېدو تاریخ په اوږدو کې کوم بدلون یا هر هغه دین چې پلی شوی یا هغه ائین چې ورانه شوی دی. په لمړي سر کې ئې بغاوت په څېر ښکاره شوی دی. کوم بغاوت چې د خپل ولس د ود او دستور ئې لوړ د منلو وړ نه وي کېدلی او هغه نه ئې د یوه غورځنګ په وسیله بدلون ور بخښلی دی. یعنې دا اسې بغاوتونه تل د ورځنیو دود او دستور او د حاکم ظلم او ستم او بې عدالتیو پر ضد راولاړ شوي دي. او همدارنګه د هر ولس لپاره هر هغه تاریخي پړاو چې د هغه ولس تاریخي برخه نیک ئې بدل کړي، د یوه قهرجنه او بغاوت آمېزه کړنې له لیارې منځ ته راغلی دی:

موږ به د خوانې پېښې پرېږدو. یعنې د ابه نه وائو چې د پارس، عثماني، روسي او انګلیسي امپراتورۍ څنګه منځ ته راغلي او د اسې نورې زرګونه تاریخي پېښې چې د ځمکې پرمخ د ولسونو برخه نیک ئې کړېدې.

- را به شو یوازې د خپل د تړوندانه د ورځنو پېښو په اړوند:

په همدې نږدې کلونو کې چې په اروپا کې د الماني ولس په دوه برخو وېشل شوی ؤ د ختیځې برخې المانیانو د خپل د حکومت د سیاسي عالي مصالحو پر ضد را و پاڅېدل او د سرحدونو د نړولو سره یو ځای د المان ته راغلل. دا په دې چې د دغو بغاوت ګرو شعار ؤ چې: موږ یو ولس یو او باید چې بیا سره یو او متحد شو. تر څو چې همدغه ولس سره یو ځای شو او یو متحده المان ئې جوړ شو. همدارنګه د یمن ولس چې د پښتنو په ګاونډ کې پروت دی او په دوه برخو وېشل شوی ؤ سره یو ځای او یو موټی شول او نور دا سې ولسونه چې بېلابېلې نږدې وختونو کې به هم سره خپلواکه او متحده شي.

مګر موږ پښتانه چې د پخواني انګرېز د امپریالیستي سیاست له امله د «ډیورنډ» د تش په نامه کرښې د را ښکېدو سره دوه ټوټې شوي یو او لا اوس هم دوه ټوټې پاتې یو که څه هم موږ پښتانه خپل بیا سیاسي یووالي و غواړو نو د غه غوښتنه د دې سره سره چې یوه روا او سپېڅلې غوښتنه ده. خو د دې غوښتنې د سرته رسېدو لپاره په اوسنۍ شرایطو کې نه د پاکستان سیاسي ښکېلتیا اجازه او نه په افغانستان کې د واکمنو چلو ټپلو ګټې پېدې کې دي چې ګني پښتانه دې سره بیا یو ځای شي.

لوکه هر ګام پدې لیاره کې اوچتیږي ـ هغه به د دوارو خواوو، له خوا په بغاوت
محکوم شي. خو د ازموږ د پښتنو رواحق دی چه د دوارو خواوو سیاسي واکمنو
د سیاسي مصالحو په خډ را وپاریږو او ځپل یووالي او یوموټي کیدل په لوی سپیڅلي
او مقدس بغاوت سره لاسته راوړو. دا په دا چه:
موږ پښتانه د تاریخ په اوږدو کې پدې سیمه کې یو ځای او سیدلي یو یوه موـ
ټیه ده، یو مو کلتور دی یو مو دود او یو مو دستور دی او زموږ د غه دود او ـ
دستور چې د «پښتونولۍ» په نامه نومول شوی پخپله یو مشخص او مکملـ
ائین دی، د اسې ائین چې تاریخي ریښې ئې د پنځو زرو کلونو نه هم په هغواـ
اوړي. د غه پښتونولي چې د پښتنو د ژوندانه مکمل ائین ګڼل کیږي په ـ
سیمه کې د پښتنو د یووالي او یوموټي او سیدو لوستر ثبوت هم دې. تکه چې
د غه ستر ثبوت او برهان نه یوازې د اچې د «ډیورنډ» تش په نامه کرښې د راښکیدو
سره تراوسه پورې له مینځه نه دی تللی، بلکه د غسې نورو پخوانیو خارجي تاړاکونو هم
ونشو کولای له منځه یوسي.
نن چې موږ پښتانه بیا د ژوندانه په یو نوي تاریخي پړاو کې راپروت یو. د اسې تاریخي
پړاو چه د هغې سره زموږ په ګاونډ کې د شوروي اتحاد ستر ګواښ دړې وړې شوی
او ددې سره جوخت نورو ولسونو ځپل سیاسي او جغرافیوي شته والی لاسته راووړی.
او تکه چه په پورته ګوته ورته ونیول شوه. نو هغه ولسونه به هم چې تکه د پښتنو
په څیر ټوټې شوي و، سره یو ځای یو ځای او متحده شي. نو پښتون ولس ته هم دمه ـ
واري ورپه غاړه کیږي چه نور دې د هغو پښتنو په لیاره نه دروي کوم چه د شیمي
د حاکمه ډلو او ګوندو لو سیاسي ګټو ته په سلام ولاړ دي. بلکه پښتانه دې ـ
د هغو پښتنو په پل ګام کیږدي کوم چې د پښتون ولس د یووالي لیاره او چت شوي
یا وچتیږي. ځکه چې که چیرې د پښتون ولس د یووالي لپاره کوم ګام وچتیږي.
هغه به په راتلونکي کې د پښتنو ملي سیاسي او کلتوري ځپلواکه ګټې خوندي ـ
وساتي چې د اسې ګام که چیرې هم په بغاوت محکوم شي خو سره د دې هم لوستر ـ
سپیڅلي او مقدس ارمان دی. هغه ارمان چې لوستر او سپیڅلي هدف یې
د پښتنو یووالي او یوموټي کیدل ترسره کوي. د اپه ډاګه جوته ده که د غسې مقدس
سپیڅلي غوښتنو لیاره تش د خولې هم لواواز راپورته شي هغه به اروموو د دوارو ـ



برخو حاکمه سیاسي واکمنانو له خوا په بغاوت محکوم شي خو د اسي حاکمه
ډلې کړې نشي کولای «انساني سپیڅلي او عالي ګټې» د تل لپاره د ځپلو ناوړه ـ
سیاسي ګټو د خوندي ساتلو په بهانه تر پښو لاندې کړي که د اکار کیدای
شوای نو د زمانې ستر و حاکمه واکمنانو به د یمن او د المان د ولسونو
د یووالي او یوموټي کیدلو ستر سپیڅلي او مقدس ارمان به ئې د تل لپاره ناممکن
ګرځولی وای ـ.



د پیواړ جګړه

د ډهلي تخت هیرومه چې را یاد نشي ↓
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه ↓



لیکوونکی: «نسیم» ستوری

# د احمدشاه بابا د مرګ نه تر اول افغاني فرنګي جنګ پورې

(1838 - 1842 - 1773)



څه وخت چه لوی احمدشاه بابا په (1773) کې
د نړۍ څخه سترګې پټې کړې چه شاته ئې افغا ـ
نستان پریښود چه یو اړخ ته ئې ایران ووبل
اړخ ته ئې مرکزي اسیا چه د امو سیند ورسره
پوله وه بل خوا هندي مغلي حکومت سره پوله په
سرهند وه مګر د وی په خوښه د پنجاب ـ
ـ صوبه کې سکهانو او جینانو د فرنګي او فرانسوي جاسوسانو په ایما ـ
غوبل جوړ کړی وو نامتو پښتون جرنیل جان خان ورسره لاس په ګریوان وو
دی لوبی ته فرنګي لمن وهله او خوشحاله ورته ناست وو چه که څه ای
کول هندوستان به مفت زما څولۍ کې پریوځي د هند د ټسما قسم مذهبونو
او نسلونو اختلافاتو نه ئې ځپل ځان ته ګټه اخستله د وی ئې په کور کې سره
اچولي وو چه څه وخت شهزاده تیمور په تخت کښیناست هغه وخت
دربار کې دوه ډلې وي. تیمورشاه د قزلباشانو په لښکرو قندهار پریښود
د سلطنت ناستون ئې کابل کړو چه کابل کې ورته تیاره ناسته مغلي نوکرشاهي
وه دوی تیمورشاه او د دوی انګریزانو سردارانو ته د عیش او نوش ټول
سامان برابر کړل دوی تش په نوم افغانان وو مګر په کلتوري او ژبني دوی



قزلباشان یا فارسي ژبي شول د هغې کلتور وجه وه چه دوی د ځپل پښتون ولس
نه لیرې شول پښتنو څینې پاتې شوه د مغلي صوبائي کابلي نوکرشاهي د لاس
ګوډاګیان شول فارسي بانز بیر وکړاسي او پښتانه سرداران ئې یو د بل سره
جنګول د دوی څخه وطن ساتنه پاتې شوه په کور کې سره اړم شول او د ـ
بهر خطرناک فرنګي علاج ئې ونکړو.
فرنګي افغانان په دوه برخو تقسیم کړل. یوه ډله هغه افغانان چه هند
کښې اباد شوي وو دوی نوابي، خاني، ملکي او ریاستونه د رلودل چې
په کې مشهور بنګښ، یوسفزي، کرلاڼي او روهیله وو او نور هم په
هند کې خواره واره وو. نو فرنګي سوچ وکړو چه اول باید علاج د هندي
پښتنو یا افغانانو یکاړ دي ځکه چه دوی د مرهټو خلاف د احمدشاه بابا
په وجه اتحادیان وو. دوی د احمدشاه بابا په وجه د افغانستان پښتنو
سره ژوندي رابطې وي لو فرنګیان وویریدل چې که چیرې هندي افغانان
د افغانستان افغانانو سره یو لاس شي نو دوی کولای شي چه موږ د ـ
هند نه د اسې وشړي لکه دوی چې د مرهټو قوت په کال (۱۷۶۹) په
پاني پت کښې تش نس کړو. د هند هندوانو به کله په پټه او کله په ښکاره
د فرنګي مرسته کوله فرنګیانو د افغانستان د مشغول ساتلو لپاره د اسې
پلانونه جوړ کړه چه حاکم ئې ایران تر ولین چه افغانانو به د هند اراده وکړه
ایران به په هرات حمله وکړه شاه زمان به بیا واپس شو د هند فتحه
به پاتې شوه د وهمه منصوبه دا وه چه دوی به کله ایرانیان په مخه
کړل فرنګي به د سکهانو په ذریعه پنجاب کې ورته فساد جوړ کړو نو شاه زمان
به کله لاهور کې و او کله هرات کې. دریمه منصوبه دا وه چه دوی د افغاني
سردارانو تر مینځ د ځپلو قزلباشو جاسوسانو په ذریعه هغه د نفرت تخم
وکرلو چه نتیجه ئې کورنۍ جګړه شوه د سردارانو عوده لوبه د یو بل سترګې
ویستل او ړنده ول وو د دوی د ومره وخت نه درلوده چه د سکهانو او ـ
فرنګیانو علاج وکړي فرنګیانو د دوی د ګډوډۍ نه ګټه واخیسته ټول هغه
هندي افغانان چې له دوی څینې ویره کیده وار په وار ئې ختم کړل او بیدیا کړ ـ

شول شاه عالم مغل د فرنګیانو یرغمل بادشاه شو سکهانو پنجاب قبضه کړلو
د افغانستان پښتنو او هندي پښتنو رابطه فرنګیانو د سکهه شاهي په ـ
ذریعه قطعه کړه د اځکه چه اوس په منځ کې سکهه پروت و د سکهه
شاهي افسران ټول یورپیان او خاصتاً فرنګیان وو لو دوی خپل مفادات
د سکهانو په ذریعه ساتلو افغانستان د سدوزو او محمد زو د درانو
د برکښي په وجه تباه پروت و خبره تردې لاړه چه شاه زمان د خپلو ورو
سردارانو له لاسه ړوند شو او بیا په ړندو سترګو د فرنګي میلمه شو د وطن
نه په پټو سترګو د احمد شاه بابا لمسي و شړل شو د شاه شجاع د غه حال و
کله به بادشاه وو او کله به
ګډاوو په اخیر کې هغه ـ
هم د رنجیت سنګه سره
پناه واخیسته افغانستان
کې محمد زیان په قدرت راغلل
دولت نه وو وطن ویجاړ
وو لو فرنګي اول د هند د
افغانانو نه ځان خلاص کړو
چه د ډهلي نه وزګار شو
لو د افغانانو پلرني هیواد ته
ئې سترګې خړې کړې د دوی
سوچ دا و چه ترڅو مو ـ
افغانان په سیاسي او ـ
فوځي توګه کمزوري کړي نه وي
لو په هند باندې حکومت ـ


شاه شجاع

کول ګران کار دی لو دوی د شاه شجاع د مجبورۍ د سکهانو د قوځي او
او د افغاني سردارانو د بې اتفاقۍ نه فایده واخیسته په (1838) کال ئې
په افغانستان و ړه تیری وکړ شاه شجاع ئې د خپل پلار نیکه په تخت کښېنا وه مګر
افغانان د داسې بادشاه منلو ته تیار نه وو چه د بل چا په زور راغلی وي افغانانو



د کابل خاوره د میکناټن په وینو لکړه کړه او په (1842) کال کې یو ډاکټر ـ
برایډن څخه نیم ژوبله پاتې وو او فرنګیانو ته ئې د (Great Disaster) خبر
ورکړو،

په کابل کښې د انګریزي استعماري پوځ یو ژوندی
پاتې سړی ډاکټر برایډن د جلال آباد د قلا و باندې.




فرنګیانو خیال وکړ چه د غه بې وقوفو سکهانو ختمول په کار دي دوی د رنجیت سنګه
مرګ ته انتظار و چه څرنګه راجه مړ شو لو دوی د سکهانو د حکومت ختمولو منصوبو
باندې په زور او شور سره کار شروع کړو دوی سکهان په ټهر کړل چې جنګ وکړي سکهانو
دري جنګه وکړل او دري واړه ئې بایلودل فرنګي پخپله د سکهه شاهي ځای ناستي
شول او د افغانانو زړې دارالخلافه پیښور ئې په (1848 - 1849) کې
قبضه کړو په همدې وخت کې یو بل لوړ قدرتمند زارې روس مرکزي اېشیا کې لګیا و
فتوحات ئې کول چه (1865) پورې افغاني لولی یعني اموسیند ته ـ
را ورسیدل چې پدې توګه د افغانانو خاوره د دوو لویو قوتونو په منځ کې پرته وه.



# پښتونخوا

ليکوونکی محب الله «روفي»



د اسیا په زړه کې د ډنګو لوړو غرونو او سردرو
وطن د پښتنو تاټوبی پښتونخوا ده د پښتونخوا
په غرو رغو کې د پښتون ولس دپت، میړانې، ـ
ننګ غیرت، میلمه پالنې او پردو یرغلګرو ته
د ماتې ورکولو تاریخي ویاړونه خوندي دي
که چېرې غرونو خبرې کولای شوای لو مونږ ته به
ئې ډېر څه لوڅه وئیلي وای د اسې لیک ـ
ګیرس په خپل کتاب کې چې د میړني اولس ادبیات لومړنۍ خپلې ترېنې ته
ورکړې دي دې لیکي:
« هر څوک که یو ځل د غه غرني سیمې ته راشي لو د ځان سره به د غه لوی
هیواد په باره کې نه هېریدونکي خاطرات یوسي ... د پښتنو په هیواد کې
ډېرې تېرې او د غرونو سلسلې د اسرارو ډکې دي، شاعرانه او احساساتي
خاصیت لري د تیرو ورځو پیړیو او دېرو ګوټو کالو لو د پیښو شاهدي کولای
شي ». د دې پدې نښتون کې د خیبر مشهوره دره او د سلیمان د غرونو ـ
سلسلې راپیټه ګوته کوي چه په زړه کې د یرغلګرو د بې شماره لښکرو په مقابل
کې د پښتنو د میړانې یادونه پرانه دي.
ګیرس ـ زیاتوي چه «د نولسمې پیړۍ په اخر کې د خیبر په دره کې ـ
داسې یو انګریز لیدل کیده چه د بریطانوي هند د استعماري دستګاه د لوړو
کارکوونکو نه ئې څه توپیر نه لاره . د انګریز ډیورنډ و . ده ته یوه حساسه
وظیفه ورسپارل شوې وه چه په تهدید او زور سره د افغانستان پاچا امیر ـ
عبدالرحمن خان مجبور کړي چه هغه موافقه لاس لیک کړي چې په حقیقت سره
د هیواد د خاورې یوه زیاته برخه په بریطانوي امپراتورۍ کې ورګډه شي.
ډیورنډ د غه ورسپارل شوې وظیفه په ډېر تکلیف سره اجرا کړه د لته د ـ
خیبر په غرونو کې په حقیقت کې د ملت په ژوندي تنه د (1893) کال



د ډیورنډ کرښه د چړې په نشان را ښکل شوه د اکرښه د افغانستان او برطانوي
هند سرحد ولومول شو. مګر وروسته د هغې د ډیورنډ لوی اسارت کوونکی
موافق شوه د خیبر د لارې نه تیر شو ځکه سنې د انګلیسي توپونو ډزو د
خیبر د غرونو لمنې ولړزولې، د خیبر په سرونو کې د سه نو جګړو غږونه ختل
او په ازادګه مینو پښتنو د ډیورنډ اجباري موافقتنه په ملي قیامونو ځواب
ورکوو) همغسې د سلیمان د غر سلسلې په (1893) کال د لومړي په میاشت کې
د انګلیسي عسکرو سره پښتنو د خونړیو او سپېڅلو جګړو ګواه دي
د پښتونخوا په ګوټ ګوټ کې د فرنګیانو په مقابل کې د پښتنو ملي پاڅونونه
د دې خبرې ثبوت دی چه پښتنو ډیورنډ کرښه په عمل کې نه ده منلې ـ
او کوم قانوني حیثیت نه لري،


جاسوس پوتینګر په اسلامي او افغاني جامو کښې


سر هنري پوتینګر

د لمسی له خوا نه چه پخپله ئې د میوند د جګړې په ډګر کې شرکت درلود لیکي ) چې په دغه جګړه کې د انګریزانو د (۱۲۰۰۰) کسیزه عسکرو او افسرانو نه یوازې (۲۵) تنه ژوندي پاتې شول . او وتښتیدل او نور ئې مړه شول .

خلاصه دا چه کله چې امیر شیرعلي خان وفات شو نو مشر زوی ئې په کابل کې د امیر په حیث وګمارل شو په کال (۱۸۷۹) کې د ګندمک تړون د محمد یعقوب خان او برطانوي هند په منځ کې وتړل شو چه د دغه تړون په اساس امیر مجبور شو چه د انګریز نماینده په کابل کې ومني او همدغه شو چه کیوناري کابل ته د انګریز د نماینده په حیث راولیږل شو او یو قسمت جنوبي منطقې د انګریزانو په قبضه کې ولویدې چه ددې حرکت په اساس د افغانانو احساسات د انګریزانو په مقابل کې وپاریدل او عمومي بغاوت پیل شو په نتیجه کې کیوناري د خپلو ملګرو سره د کابل په بالا حصار کې ووژل شو نو هند وایسرا لارډ لیټن د جنرال رابرټس په مشرۍ خپل فوځونه افغانستان ته ولیږل او یعقوب خان ئې د یو قیدي په توګه هندوستان ته واستاوه نو خوري بغاوت لا جاري ؤ چه انګریزي پوځونو د افغانستان مهمې نقطې په لاس کې نیولې وې پدې وخت کې عبدالرحمن قصد وکړ ترڅو د کابل واګې ونیسي نو همدغه ؤ چه دده او یعقوب خان په منځ کې جګړه وشوه چه د جګړې په پای کې عبدالرحمن بریالی او ایوب خان ایران ته وتښتید انګریزانو په کال (۱۸۸۰) کې د امیر عبدالرحمن خان حکومت ومانه پدې وخت کې عبدالرحمن د دوو تیرې لوی تیرې کوونکو قوتونو یعني روس او برطانوي هند تر منځ ګیر ؤ کله چه په کال (۱۸۸۵) کې امیر عبدالرحمن د وایسرای هند په بلنه هندوستان ته ولاړ نو د روس حکومت د افغانستان په سرحدي سیمه پنجده باندې حمله وکړه او هغه ئې ونیوله . انګریزانو د عبدالرحمن خان سره د هد بندئ په هکله د (( سر مارټیمر ډیورنډ )) په مشرۍ یو جرګه کابل ته واستوله . او هغه ؤ چه د عبدالرحمن او ډیورنډ تر منځ یوه معاهده په کال (۱۸۹۳) کې لاس لیک شوه چه دغه معاهده د ډیورنډ لاین په نامه مشهوره ده پدې معاهده کې ټاکل شوي ؤ چه د هند برتانوي حکومت به ددې کرښې نه د افغانستان په لوري او افغانستان ددې کرښې نه د هندوستان په لوري او هم به د سوات ، باجوړ ، بنیر ، دیر او چترال کې مداخلت نکوي او د وزیرستان او د وړوکو علاقو سره به تعلق نه ساتي ددې تړون له مخې د کابل د حکومت کلنۍ مرسته د دولسو لکو روپو کالدارو نه



اتلس لکه روپو کالدارو نه لوړه شوه چه پدې توګه ازاد قبایل د برطانوي حکومت تر څنګ (( مذي راغلل په (۱۸۹۷) کې افغانانو د انګریزانو پر خلاف پورته شول او د انګریزانو سره په جنګونو بوخت شول خو عبدالرحمن د انګریزانو د لوظ له کبله په حیث بې طرفي اختیار کړه . د دغو تر څو پیښو سره سره کله چه بیا هم افغانانو په کال (۱۹۱۹) کې له انګریزانو څخه د او بزدو جګړو په نتیجه کې خپله خپلواکي ترلاسه کړه د غه تش په نوم د ډیورنډ کرښه د افغان او برطانوي هند تر منځه پاتې شوه ، کوم چه په عمل کې هیڅکله ئې د کرښې په توګه موجودیت نلري او ددې سیمې او سیدونکو او سیدونکو د خپلو تر ادې ، ژبنۍ او کلتوري اړیکو په اساس یو ځای او متحد پاتې شوي دي .

دیاد وونه وړتیا دادي چه برطانوي حکومت د دوهمې نړیوالې جګړې په دوران کې د افغانستان حکومت سره منلې وه چه د جګړې نه وروسته په کوم چه د ډیورنډ د تش په نامه کرښې سره بیله شوې رسماً افغانستان ته سپارل کیږي .

خو د جګړې په پای کې د برطانوي هند پر ځای پدې سیمه کې د هند او پاکستان په نامه هیوادونه جوړ شول ، کوم چه ددې بدلون په مخ هم د ډیورنډ کرښې د پښتنون ولس په بیل والي کې چه ددې سیمې او سیدونکي دي کومه اغیزه و نه شوه کولای .

لوی کبله سونږ یو ځل بیا بیړه والو ته خپل غږ رسوو چه د (( ډیورنډ )) تش په نامه کرښه ته څنګه چې پخوا هم بې اغیزې او منل شوې نه وه لدې وروسته به هم پدې سیمه کې بې اغیزې پاتې وي .

د ټولو سوله غوښتونکو او ازادې غوښتونکي ولسونو نه هیله کوو چې زمونږ د ولس د یو والي ، هوساینې او نیکمرغۍ ملاتړ وکړي ځکه چې ددې سیمې سوله یوازې ددې سیمې د ولس په یو والي کې ټینګول کیدای شي او بس .



محمد احسان (( یار ))

# د تاریخ پاڼه

دنن نه سل کاله څوا تاریخ کې
د نفاق اورئ اچولے مونږ کې
تا سو لوستلی اوریدلی دیرې
هره پیړۍ ده د ناخوالو ډکه
په مونږ ده دوی لوټې یرغل کړې
وړ پسې وروسته د سیتي قبایل
چه په تاریخ کې کوشانیان یادیږي
په کاپیسا او پیښور کې هغوی
د خاوره لامنځي نه ئې اثار پښتل
پیل شوله زر د یفتلیانو دوره
کله ظهور چه د اسلام وشو
په دغې وخت کې طاهریانو دولت
د سامانیانو ، غزنویانو دوره
راغلل غوریان د سلجوقیانو پسې
په لوی غضب چې چنګیزخان راغی
د ګورګانیانو ، صفویانو دوره
د هند بابرینه پاچاهي تیره کړه
د میرویس خان کارنامې هیرې ندي
د احمدشاه او د میرویس پښتانې
تاریخ دوی کله هیرولی نشي
ټولو ته ښکاره چې پسې چاپ کړې هڅې
د محمدزو او سدوزو دولت
د انګریزانو او روسانو سیاست
د ګندمک د معاهدې نړوروسته

وران کړې کور دې انګریزانو زمونږ
همه دې مات کړې فرنګیانو زمونږ
د تیر و شولو پاچاهانو کیسې
چا که لوستلي یونانیانو کیسې
د قهره ډک سلطان سکندر راغی
راغلل هیواد ته د ختیځ لوري نه
کاشغرستان او د لویدیځ لوري نه
د اوړې ژمې پاچاهي تخت ونه
هیواد کې کشف شول لوی معابد ونه
وروسته هغوی نه ساسانیان راغلل
په غزا ټول مسلمانان راغلل
هم پسې جوړ شو صفاریانو دولت
تشکیل شو بیا د سلجوقیانو دولت
جوړ شو دولت خوارزمشاهانو وروسته
وطن تباه کړو چنګیزیانو وروسته
هرات د ښکلي تمدن ښار شو
بیا هوتکیان وروسته زړ اظهار شو
بیا شوه رامنځ ته ابدالیانو دوره
دا د تاریخ د میړنیانو دوره
هم به پیدا لوی احمدخان نشي
ژوندی به کله خوشحال خان نشي
افغانان واړه خواره زاره کړل ټول
پښتانه کړی ته ګدا کړل ټول
پښتنه خاوره موآری شوه



د پښتنو برم په ځمکه ولوید
صدی پوره شوه د ډیورنډ کرښې
بس دې په خولې ئې یادولی نشم

کره پګړې لاړه ریښې ریښې شوه
دیار تکمیله اسویله شوه لوړه
رنګه منحوسه معاهده شوه لوړه

---

لیکوونکی: محب الله (( روفي ))

# کوز او بر پښتانه

بیل دې نشي کوز او بر پښتانه یو دي – لکه وروڼه په سنګر پښتانه یو دي
یوه ګړه وروګلوې یوه پښتو ده – یوه ژبه یو ارمان یوه ارزو ده
په یو فکر یو نظر پښتانه یو دي – بیل دې نشي کوز او بر پښتانه یو دي
ترا تړکه تر جبیله تر شلمانه – تر سوات ته تر کواټه تر مردانه
په تور چم او په خیبر پښتانه یو دي – بیل دې نشي کوز او بر پښتانه یو دي
د زابل او کنړ ها رحړو میار وکی – د کنړ او پکتیا چه د ننګو غرو کی
په کابل او پښور پښتانه یو دي – بیل دې نشي کوز او بر پښتانه یو دي
واړه یو دي د یو والي په مورچل کی – د عظمت غلي ئې جوړ کړې هر کوټل کی
د شمشاد او اشنغر پښتانه یو دي – بیل دې نشي کوز او بر پښتانه یو دي
اې ولسه یو مومرګ یو موژوندون دی – زمونږ منځ کې خلکو څوک وایې سلیتون دی
د هر قام د هر ټبر پښتانه یو دي – لکه وروڼه په سنګر پښتانه یو دي
بیل دې نشي کوز او بر پښتانه یو دي – لکه وروڼه په سنګر پښتانه یو دي

ليكوونكى محمد شيرين "گرديوال"

## - د ميوند گربنه او امير عبدالرحمن خان -

څه وخت چه امير عبدالرحمن په (1880) كى فرنگيانو په كابل كى امير كړو.
لو افغانستان گړو چ پروت ؤ د افغانستان د هر كاظى او بو خى شاته افغانى -
مجاهد ناست ؤ د فرنگيانو منصوبې ئى د خاورو سره گډى كړى اوس د فرنگيانو -
كوشش ؤ چې افغانستان په ورو -
ورو امارتونو او رياستونو تقسيم كړى.



Amir Abdur Rahman Khan
(1880-1901)

مګر د غازى ايوب خان فاتح ميوند -
كاميابى او د جنرال محمد جان خان وردگ
سخت گذارونو فرنگى گيچ وډ كړو لو دوى
كوشش كولو چى زر تر زره د افغانستان
څخه لاړ شى او وروسته ئى گړو چ افغا-
- نستان خپل ايجنټ امير كابل -
عبدالرحمن ته پريښود او س د عبدالرحمن
په خپل قابليت او چالاكى او سياست
پورى تړلى وه چه افغانى بزكشى كى
كاميابى او يا ناكامى د خپل -
استاد فرنگى په صلاح او اسلحه
او د دوى په زور عبدالرحمن لو قابل
چالاك ، مكار حكمران ثابت شو.
امير اول سركى هغه تول خلك چې -
كابل كى ؤ او د امير شيرعلى خان سره ئى
رابطى باتى وى څوك ئى په رشوت خپل ملګرى كړل څوك ئى پهانسئى كړل او څوك
ئى بنديان كړل او څه د مكڅ څه وتښتيدل او س د اميد پاره غتى سيال او د تخت
دعوه دار غازى ايوب خان پاتى و كله چه غازى ايوب خان په ميوند كى فتحه
وګټله لو تولو برطانيه گړه وړه وه حكومت هند ته هدايت وشو چه په هر



صورت چه وى د برطانيې عزت په
ځاى كړى چه برطانيه بى عزته -
شوى وه د وائيسراى هند د لوښت
نه لرى كړو او (Mr. Ripon)
رپون مقرر شو رپون برطانوى
جنرال رابرټس ته چى كابل كى ؤ د -
هند په ځاى د قندهار طرف ته
د تګ حكم وركړو او ورته هدايت
وشو چه بايد ايوب خان د قندهار
محاصره ماته كړى او بلى غاړى ته
د بمبى نه تازه فوځونه د بولان
په لار قندهار ته راروان شول
خو جنرال رابرټس ته د غزنى نه -
تيريدل ګران ؤ مګر امير عبدالرحمن
د غلجيانو مشرانو ته رشوتونه
وركړل د دى په ذريعه د رابرټس
لس زره فوج په غير د جنګ نه -




سردار محمد ايوب خان فاتح ميوند

قندهار ته ورسيدل په هغه
وخت كى د هند نه هم فوج راغلو . جنرال رابرټس د قندهار په لر خوا كى كلى خالى كړو
او د ايوب خان خلافئى د جنګ تيارى شروع كړه رابرټس په قندهار كى ګير شو فرنګى فوج
د حوصلى متعلق ليكى :

( I Confess, to be gred surprised not to
use a stronger impression, at the demo-
-ralised Condition of the great part of the
garrison, There werenotable ekeption, but
The general hearing of the troops remi-
-nded me of the people Of AGRA in 1857)



د برطانيې فوج قندهار كى د ميوند د جنګ په وجه د ومره ګړ وډ ؤ چې دوى د برطانيې
جنهه چې (يونين جيك) ورته واى نه لى وله ايوب خان چې د رابرټس د فوج نه خبر
شو لو خپل فوجى هيډكوارټر (ګارنيزون) با مرکز ئى ولى بابا ته كړو او س فرنګيانو د
رشوت او سازشونو په زور د ايوب خان ملګرى ګړ وډ پيل اكړه .



جنرل پولاک

د امير عبدالرحمن خان جاسوسان ور-
- ننوتى ؤ د ولى بابا جګړه كى ايوب خان
د فرنګى او امير افغانى ګړ فوج نه -
ماتى وخوړه . په لسم د سپتمبر
( 1880 ) كى وائيسراى هند امير-
عبدالرحمن ته د قندهار د بابا ولى
د فتحى خبر وركړو . او مباركى ئى ورته
وركړه ايوب خان هرات ته واپس لاړو
په (16) د اپريل باندى جنرال رابرټس -
قندهار د امير عبدالرحمن افسرانو ته -
حواله كړو او دوى پخپله هند ته روان
شو د قندهار نه د تلو په وخت كى جنرال
د برطانيې حكومت ته لو نصيحت وكړو
ده د افغانستان متعلق داسى ورته
وليكل :

"we have nothing to fear from Afghanistan and
the best we ean do is to leare it as much as
possible to itself. The less The Afghans see of us,
The less would dislike us. should Russia in-
fufure years attempt to Conquer Afghanistan,
or invade India through it, we would have a
better chance in attaching The Afghans to aur in-
-terests, if we would avaid all interperence with
Them."



### ترجمه :

(( موږ ته د افغانستان نه هيڅ ډار نه دى پكار . موږ ته تر ممكنه حده پورى -
د دوى په خپل حال پريښودل په كار دى چې څومره لږ افغانان موږ وينى دومره لږ
به زموږ نه نفرت كوى . كه چيرې روس په راتلونكى وخت كى افغانستان فتحه كوى
يا د افغانستان په لاره په هند حمله كوى لو زموږ لپاره به هغه بهترينه موقع وي ده چې
خپل مفادات د افغانانو سره وتړو په دى شرط چه موږ د هر اخلت نه لاس واخلو ))
د غه خبره سل كاله وروسته ثابته شوه چې د دسمبر (1979) كى روسان افغا-
- نستان ته راغلل . فرنګى او مغرب د افغانانو سره كمك وكړو . روسيان ئى -
افغانستان كى و ډبول او كمونيزم ئى ختم كړو . په (21) د اپريل (1881) كى افغانى
خاوره فرنګى خوشى كړه مګر لاندى منطقى ئى لكه سبى ، پشين ، كرمه او خيبر ، ميچنى
دره ئى د ځانه سره وساتلى او د ګنډ مكڅ د تورى لو ظالمى لاندى د دوى سره پاتى شوى .
امير صاحب خارجه سياست فرنګى ته وركړو هغه معاهده ئى ومنله كوم چې امير -
يعقوب خان كړى وه . غازى ايوب خان د خپل ورورنه دومره مرور وه چه هند كى ئى صرف
لو ځل ور سره ليدلى ؤ . ځكه چه د ګنډمك معاهده لو تور داغ ؤ . اوس لو امير صاحب
د قندهار مالك هم شو او لونا افغانستان ته ئى مخ راواړوه . مګر غازى ايوب خان لا -
مكمل ختم نه ؤ . هرات ئى په لاس كى ؤ امير عبدالرحمن د قندهار والى خپل تربور
د عظيم خان زوى سردار محمد هاشم مقرر كړ . يوه اصلاح كاره جرګه ئى جوړه كړه
چې سردار شمس الدين صاحبزاده ، غلام حيدر خان ، قاضى شمس الدين او -
غلام حيدر " توخى " ئى د فوج كماندار مقرر كړو . غازى ايوب خان چې خبر شو چې د فرنګى
فوج د قندهار نه هند ته لاړو لو ژر ئى په قندهار د حملى تيارى شروع كړى با وجود د دى
چې خالى خزانه ، فوج ئى بى اسلحى ؤ . د امير صاحب او د فرنګيانو سازشونه او د
لويو افسرانو ترمنځ حسد او ضد مشكلات موجود ؤ - مګر شهزاده ايوب خان په دى
مشكلاتو قابو وساتله . غازى ايوب خان د جون په (1889) كى د هرات نه -
قندهار د پاره روان شو . اوس فرنګى نه ؤ چه د امير عبدالرحمن خان د مرد لپاره
راغلى وى برطانيه خپل ايجنټ افغانى نالاب ته اچولى وه او س امير ته پخپله -
لمبا زده كول ؤ په اول سركى ايوب خان خبر مشهور كړو چه هغه صرف فرنګيان
د پښين نه شړى . خو ورو ورو د غازى ارادى معلومى شوى چې دى ګرشك ته رارسيدو .

لندن ته لاړ او س فرنګیانو د دې فرنګي انجنونه کار واخیست د (۱۲) د مارچ نه تر (۱۲) جون (1893) پورې د هند د حکومت سره پایښ په تماس کې ؤ. ده د وایسرا هند او د هند د خارجه چارو سکرتري مورتیمر ډیورنډ سره بار بار وکتل شو که چاره فرنګیانو امیر صاحب ته د هیواد د ساتنې او ژغورنې په بدل کې ورته سختې سختې بلاګانې ښکاره کړې او د وطن او هیواد د خرڅونې په مقابله کې ئې ورته د ده تخت، بخت او نوي ګټې ور په ګوته کړې یعنې ښکاره ئې ورته وویل چه که کرینه مني نو تخت دې محفوظ دی او که اخوا دېخوا کوې نو حال به دې د ایوب خان او یعقوب خان په شان وي پایښ ته ډیورنډ یوه نقشه ورکړه چه امیر صاحب ته ئې ورکړي او س پایښ د برطانوي هند او افغاني امیر په منځ کې میانجیګر ؤ کله چه کابل ته ورسید و نو امیر صاحب ته ئې د ومره د بلا سرونه ښکاره کړل چه په یوه میاشت کې د ننه ئې امیر صاحب د وطن خرڅولو ته چمتو کړو.



سر مورتیمر دیورنډ

سمدستي په (۲٤) جولای (1893) وایسرا هند امیر صاحب ته اطلاع ورکړه چې د برطانوي هند یو لوی افسر به غیر د فوج د بدرګې نه کابل ته د راځي او ستاسو سره به د امو سیند په پوله د روس سره د متعلق خبرې کوي پایښ د مخه امیر صاحب هر قسم خیانت ته تیار کړی ؤ امیر صاحب د دغه تجویز سمدستي قبول کړو وایسرای هند د هند د خارجه چارو سکرتري ډیورنډ وټاکو.



د فرنګیانو چالاکي دغه وه چې امیر صاحب ته د امو د سیند پوله د روسانو سره معینه کړې او د هند سره کرښه ئې بې ضروره کړه لنډه دا چه ډیورنډ د سپتمبر په نیمائی کې د پیښور نه کابل ته روان شو او په (۱۲) اکتوبر (1893) کې ورسیدو. د امیر صاحب سره په اوله غونډه کې ډیورنډ د امو سیند د پولې خبرې شروع کړې. ډیورنډ وائي:

چه په لمړۍ غونډه کې امیر ده ته وویل – څنګه چې ته اول خبره شروع کړه نو پکار دي چې مونږ د دې لمړۍ فیصله وکړو خو په حقیقت کې دغه بل سرحد مهم دی ستاسو، زما او د روسانو ترمنځ خبره ده زما خلک به په دې خبرونه شي او نه د دې پروا کوي چې زه په روښان یا شینګان کې پر منځ ځم او که په شاخو د دې د محلوملو چې په زیات فکر کې دي چې ستاسو د لوري د وی په کوم ځای ولاړ دی (ثائیکس سکوټکي ۲۲ ۲ مخ (کتاب بلوزمم)

ډیورنډ د لوی بلې ورځې په باره کې لیکي چه: عبدالرحمن وویل

((که تاسو ما مجبور کړئ زه به ستاسو سره جنګ وکړم زه پوهیږم که څه هم زه د دې په نتیجه خبریم خو بیا هم که زه جنګ وکړم، زما شیرعلي خان نه دی هیر))

خو زه به د خپل ناموس لپاره په غیرد جنګ نه د ازادۍ څخه لاس وانخلم))

مګر حقیقت کې امیر صاحب دومره زړه او جرأت نه درلوده چې امیر شیرعلي خان غوندې د افغاني غیرت د ساتلو د پاره ئې خپل تخت پرېښود. خو فرنګیانه ئې سر ټیټ نکړو. امیر عبدالرحمن خان ته د خپلې افغاني خاورې نه خپل تخت ګران ؤ او د فرنګي ظالم شوم منصوبو ته ئې سر ټیټ کړو د فرنګي استازي ډیورنډ په موجودګۍ کې (۱۲) نوامبر (1893) هغه علاقې چې فرنګي وای په وای لاندې کړې د هغې نه ئې لاس واخیست د چانې نه تر چترال پورې په زرګونه مربع میله پښتنون او بلوچ خاوره ترېنه ورځې پورې د مورنې وطن نه جدا شوه او په (۱۲) نوامبر کال (1993) کې به ئې پوره سل کاله پوره شي پایښ په حقیقت کې د ساماراجي فرنګي بل شکل ؤ.

ده امیر دې خیانت ته تیار کړو چه ډیورنډ ئې منته کوي دی لیکي:

((زما په خیال د امیر په احساساتو کې زمونږ په باره کې څه بدلون راغی د هغه د پاره د هند حکومت تر هر څه چر ډه منت بار دی)).

امیر صاحب د ډیورنډ د میشیون په باره کې داسې لیکي:

(( زه د او اقعیت لوړي دې ته څرګند ولو لپاره بیانوم چه که څه هم انګلستان د افغانستان یوه ټکره (ټوټه) هم نه غواړي خو بیا هم د دې د حاصلولو هڅه -



موقع هم له لاسه نه باسي.

دې دوست تر روس زیات افغانستان لاندې کړي)). انګریز سامراج چه - فریزر تیټلر لا د خپل کتاب افغانستان په مخ (188) د افغانستان د خاورې د ډیورنډ د لاسه سامراجي ویش په باره کې لیکي:


د ادنسلي ستراتیژیکي او جغرافیوي لحاظ غیر منطقي ده. نه چه یو ملت په دوه برخو تقسیموي بلکې قبیلې د قبیلې نه سره بیلوي.



غنی شوه پلوشه د خیبر د هسکو غرونو نه
دائي پښتون ته مې ارمان راوړه
ښکلې اسیلاب لوړ د غفلت د خوبه
په سرو منګولو سي پیغام دلوی افغان راوړه

محمد شیرین "کردیوال"






که سوبوره وي که پوره وي په شریکه به وي
(باچاخان)

Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha Chan)

Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)